مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدنعمان دوست

۲۰۲۱/۱۱/۲۶

# محرومان

## (کیسه گی)

چې سهار چای ته سره راټول شول؛ کوچینی جمیلي غږ کړ:

موري! د شپې مې پلار سره ډک پلاستیک انار و.

یو غټ يي ما ته راکړ. ډیر خوږ و.

نور ماشومان داسي خوشاله شول، لکه شیبه وروسته چې دوی ته هم خپله برخه رسیږي.

د مور سترګي يي یوه شیبه په جمیلي ګنډلي پاتي شوې، شونډې يي بې واره رپیدې. یو دم يي غیږ کي ونیوله او بیا يي په چیغه وویل:

زما یتیمي لورکی، دا خوب به دې هیڅ ربنتیا نشي.

او له دې سره ټولو ماشومانو داسي چیغي کړې لکه کوم ظالم چې يي له لاسونو خواږه انار وتښتوي.

۱۳۹۸، د تلي ۲۸مه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ